**د افغانستان اسلامي امارت**

**د پوهنې وزارت**

**د خوست ولایت پوهنې ریاست**

**د کیفیت د تضمین آمریت**

# د خوست ولایت د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور




د راپور ورکولو دوره: (حمل ـ حوت) کال ۱۴۰۴

## مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۴ مالي کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ ........ 4

د ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 5

سریزه ........ 7

د کړنو لنډيز ........ 8

د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ ........ 12

برنامه 1: اسلامي زده کړې ........ 12

1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ........ 12

1.2 مدرس/ استاد/ښوونکی ........ 12

1.3 نصاب ........ 14

1.4 ښوونیزه ارزونه ........ 14

1.5 ښوونیز چاپیریال ........ 15

1.6 د ټولنې ګډون ........ 15

1.7 مدیریت ........ 15

برنامه 2:ښوونه او روزنه ........ 16

2.1 زده کووونکی ........ 16

2.2 ښوونکی ........ 20

2.3 نصاب ........ 22

2.4 ښوونیزه ارزونه ........ 24

2.5 ښوونیز چاپیریال ........ 24

2.6 د ټولنې ګډون ........ 30

2.7 مدیریت ........ 31

برنامه 3: د کیفیت تضمین ........ 34

3.7 مدیریت ........ 34

برنامه 4: سرچیني او اداره ........ 37

4.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ........ 37

4.2 مدرس/ استاد/ښوونکی ........ 37

4.3 نصاب ........ 38

4.4 ښونیزه ارزونه ........ 38

4.5 ښوونیز چاپیریال ........ 38

4.6 د ټولنې ګډون ........................................ 40
4.7 مدیریت ........................................ 40
5: پوهنې ریاست اړوند (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان و ...) ........................................ 41
5.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ........................................ 41
5.2 مدرس/ استاد/ښوونکی ........................................ 41
5.3 نصاب ........................................ 41
5.4 ښوونیزه ارزونه ........................................ 42
5.5 ښوونیز چاپیریال ........................................ 42
5.6 د ټولنې ګډون ........................................ 42
5.7 مدیریت ........................................ 42
غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........................................ 43
د پایلو او شننې لنډ جدول ........................................ 44
د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........................................ 47
مالي رپوټ تحلیل ........................................ 48
ملپاڼې ........................................ 49


## د ۱۴۰۴ مالي کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او کورنۍ نوم | دنده | بریښنالیک | ګرځنده شمېره/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوي حفیظ الرحمن(حقاني) | ښوونې او روزنې برنامې آمر | ایمیل ادرس نلرم | 0778271281/ 778271281 | |
| مولوي دلاور(حنفي) | اسلامی زده کړو برنامې آمر | Dellawer.hanifi2022@gmail.com | 077058409/ 777943234 | |
| مولوي نصیب الرحمن(پیر) | مالي او اداري برنامې آمر | ایمیل ادرس نلرم | 077923820/ 704950784 | |
| خیرو ګل(خیر خوا) | تضمین کیفیت برنامې آمر | Khirogulkhirkhwa2022@gmail.com | 0772621552/ 771404612 | |

دخوست ولایت پوهنې رئیس تائید

| نوم او کورنۍ نوم | دنده | بریښنالیک | ګرځنده شمېره/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| الحاج شیخ الحدیث مسلمین(راشد) | خوست ولایت پوهنې رئیس | ایمل ادرس نلرم | 0771807161 | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات




خوست د افغانستان په جنوب ختیځ کې پروت ولایت دی، ۴۰۲۹ کیلومتره مربع پراخوالی لري، نفوس یې د ۱میلیون څخه زیات وګړي دي. ۱۲ ولسوالۍ لري چې عبارت دي له (سپېره، دوه منده، نادرشاه کوټ، اسمعیل خیل او مندوزی، تنی، قلندر، موسی خیل، صبری اویعقوبی، باک، ترزیزی وعلیشیر، ځاځی میدان او ګربز) څخه. مرکز یې ۳ اداري واحدونه لري چې(متون، شمل، لکڼ) دی. دخوست ولایت دغرونو درلودونکی دی چې غرونه یې په ونو پوښل شوي، د پاکستان قبایلي سیمې وزیرستان سره لګېدلی دی او د یاد  هیواد سره ۱۸۵ کیلومتره ګډه پوله لري، چې په راتلونکي کې به یو ښه ترانزیټي ښار وي. خوست ولایت د پکتیا، پکتیکا سره ګډه پوله لري؛ چې د پاکستان هیواد څخه غلام خان سرحد ته را غزیدلی سړک دخوست بیا د ګردیز او لوګر ولایتونو تیریږي، چې له هغه ځایه پلازمېنې کابل ته رسيږي، دغه سړک د پاکستان څخه نورو را داخلیدونکو سړکونو په نسبت ٤٣٣ کلومټرو په کچه کم دی او د افغانستان د اقتصادي پر مختګ لپاره مناسبه لاره ده، خوست د نورو ولایتونو په نسبت ښه معتدله هوا لري او د ژوند د ډېرو چارو لپاره پراخه لمنه لري.

### پوهنه او لوړې زده کړې

خوست ولایت ۳۷۲ بابه د عمومي زده کړو امارتي ښوونځي لري چې۱٦۴ بابه لومړني، ٦۹ بابه منځني او۱۳۹ بابه یې لېسې دي چې۹۵۴،۲۲۲ تنه زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي؛۱۲۳ بابه د عمومي زده کړو خصوصي ښوونځي لري چې۵۴۵٫۵۹ تنه زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي؛۲۲۲ بابه دسواد زده کړې کورسونه لري چې۳٦۸٫٦ تنه زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي او۲۰۹ بابه د سیمه ایزو زده کړو او۱۰ بابه د چټکو زده کړو ټولګي لري چې۳۲٦٫۷ تنه زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي. همدا راز داسلامي زده کړو په برخه کې دا ولایت۴٦۷ بابه ددیني زده کړو امارتي مدرسې لري چې ۴۸٦٫۵۷ تنه طالب العلمان،(۱) باب دارالعلوم لري چې ۵۴۷ تنه طالب العلمان ،۲بابه دارالحفاظونه لري چې ۴۷۳ تنه طالب العلمان په کې په زده کړو بوخت دي؛ په دې ولایت کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په برخه کې ۵ انستیتیوټونه او ۵ تخنیکي او مسلکي لېسې شتون لري.همدا رنګه په دې ولایت کې دخصوصي پوهنتونونو او لوړو زده موسسو ترڅنګ یو دولتي پوهنتون د(شیخ زاید پوهنتون په نوم ) موجود دی چې په طب، انجینري، حقوقو، کمپیوټر ساینس، زراعت، ادبیاتو، شرعیاتو، اقتصاد، ژورنالیزم، وترنري، او ښوونې او روزنې په څانګوکې محصلینو ته لوړې زده کړې ورکوي.

### زراعت اومالداري

خوست د زراعت لپاره مناسب ولایت دی، په دې ولایت کې هر کال دغرونو دجلغوزيو ونو څخه په ټنونو ټنونو جلغوزي راټولیږي، چې په غیر مسلکي شکل دسته بندي کیږي او د ناچیز قیمت په مقابل کې بهر ته استول کیږي. د خوست اب هوا د زراعت اومالدارۍ لپاره مناسب ده، پدې ولایت کې د غلې دانې په برخه کې غنم، شولې، جوار، لوبیا، مې، سوابین او نور ښه حاصل ورکوي. خوست د زیتونو او چهار مغزو د نهال کیدو لپاره مناسب ولایت دی او د خوست په یو شمیر ولسوالیو کې یې ښه نتیجه ورکړې ده.

### ټرانزیټ ، اقتصاد او تجارت

د غلام خان بندر ټرانزیټ چې په اقتصادي لحاظ د عوایدو لویه منبع ګڼل کیږي، کاري فرصتونه یې رامنځ ته کړي، دا لاره په اقتصادي لحاظ لنډه او موثره ده، د اموالو د ضایع کیدو څخه مخنیوی کوي، په مناسب وخت کې مارکیټ ته د رسیدو لپاره نور سهولتونه ایجادوي او د یو مهم اقتصادي فکتور په توګه د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره غوره بدیل

**دی. دا لاره په راتلونکي کې کولای شي چې د وصل په یوه مرکزي نقطه بدله شي او جنوبي اسیا د منځنۍ اسیا سره وصل کړي.**

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**الحمدلله رب العلمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. امابعد:**

**د خوست ولایت کلنی عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار د پوهنې په اوه برخو( طالب العلم/ زده کوونکی/ سواد زده کوونکی، مدرس/ استاد/ ښوونکی، نصاب، ښوونیزه ارزونه، ښوونیز چاپیریال، د ټولنې ګډون او مدیریت) کې جوړ شوی دی او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، کلیو او بانډو په کچه د پلي کېدو په حال کې دی، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کیفي بڼه منظم دري میاشتني،شپږ میاشتني،نهه میاشتني او کلني ربعوار تشریحي راپورونه چمتو او اړونده ادارو ته استول کېږي.**

**د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینۍ موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوندو چارو ته ښه والی ور وبخښي.**

**د خوست ولایت پوهنې ریاست د عملیاتي پلانونو د راپورونو د لیږد په دوام د۱۴۰۴ کال د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت میاشتې تر پایه پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو درلودونکی دی.**

**۱ـ د کړنو لنډیز**

**۲ـ دعملیاتي پلان دپرمختګ څرنګوالی دپوهنې وزارت دعناصرو او برنامو پربنسټ**

**۳ـ د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه**

**۴ـ تحلیل او پایلې**

**۵ـ د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې**

**٦ـ مالي رپوټ تحلیل**

**۷ـ ملپانې**

## د کړنو لنډیز

### 1. طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال

- د دې ولایت د مرکز او ولسوالیو د اسلامي زده کړو په مدرسو او دارالحفاظونو کې ۱۳۷,۱۵ تنه طالب العلمان نوي جذب شوي دي.
- د دې ولایت په لیلیه مدرسو کې ۴٦۵ تنه طالب العلمان شامل شوي دي.
- د اسلامي زده کړو ښوونیزو مرکزونو د خامسه او حفظ فارغانو ته ۳۲۴ شهادتنامې وېشل شوي دي.
- د عالیه دورې ۱۲۳شهادتنامې چاپ او ویشل شوي دي.
- د دې ولایت په مرکز او ۱۲ولسوالیو کې د زده کړو په شرایطو برابرو ماشومانو د شمولیت لپاره دعامه پوهاوي ۳۷۰ پیغامونه دبروشرونو او تبلیغاتي پاڼو د چاپ له لارې خپاره شوي دي.
- د دې ولایت د مرکز او ولسوالیو د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري د۷۷٦ بابه ښوونځیو د شوراګانو څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.
- د دې ولایت د مرکز او ۱۲ولسوالیو د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې ٦۳۸,۱۸ تنه نارینه او ۳۱۱,٦ تنه ښځینه زده کوونکي نوي جذب شوي دي.
- د دې ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې ۲۷٦,۵ تنه په لومړنۍ دوره کې، ٦۰۴ تنه په منځنۍ دوره کې او ۳۱ تنهمجاهدین او بیرته راستنیدونکي د لېسې دوره کې دټولګي د تثبیت او سویې ازموینې له لارې نوي شامل شوي دي.
- ۲۳٦ تنه دکوچیانو په ښوونځیو کې نویجذب شوي دي.
- د پوهنې همکارو موسسو له لوري ۲۳٦ تنه د ښوونځي څخه مخکې برنامه کې نوي شامل شوي دي.
- د دې ولایت مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د سواد زده کړې په شرایطو برابرو ۲۲۱,۳ تنه لویانو نوملړ چمتو شوی دی.
- د دې ولایت په مرکز کې د کوچیانو په شرایطو برابر ۳۰ تنه لویان د سواد زده کړې په کورسونو کې شامل شوي دي.
- د دې ولایت د مرکز او ۱۲ ولسوالیو د سواد زده کړې په کورسونو کې ۱۷۵,۳ تنه سواد زده کوونکي شامل شوي دي.
- د دې ولایت په مرکز کې د روغتیا مدیریت له لوري د۵۷۴ تنه نویو شامل شویو زده کوونکو له روغتیایي وضعیت څخه ډاډ تر لاسه شوی دی.
- د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د اوبو، روغتیا ساتنې او نظافت په برخو کې د عامه پوهاوي برنامې دایرې شوي دي چې ۲۸۰,۳ تنه زده کوونکي او ۱۲۰ تنه ښوونکي ور څخه برخمن شوي دي.
- د دې ولایت مرکز او ټولو ولسوالیو ته ٦,۰۰۰ قطعې روغتیایي تبلیغاتي مواد،د ۱۰ په شمیر اولیه کیټونه او د۱۰۵ په شمیر د حفظ الصحې او نظافت کیټونه ویشل شوي دي.
- د دې ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د پوهنې د منتخبو ټیمونو د غوراوي په موخه په ښوونځیو کې ۲۲۰ دوستانه سیالۍ په لاره اچول شوي دي.
- د دې ولایت د مرکز او ولسوالیو د پوهنې امریتونو۴۵ تنه زده کوونکو درې کلنې نمرې ترتیب او ژباړل شوي او د خصوصي ښوونیزو مرکزونو۴۵ تنه زده کوونکو تصدیق لیکونه اجرا شوي او بهرنیو هېوادونو ته استول شوي دي.
- دنشراتو او عامه اړیکو ریاست له لوري د خوست ولایت پوهنې ریاست ته ٦۲بروشرونه را استول شوي چې د نشراتو مدیریت له لوري د پوهنې آمریتونو ته ویشل شوي دي.

### 2. مدرس/استاد/ښوونکی

- د دې ولایت په کچه د خالي بستونو لپاره د رشتې سره سم له ٦٨ تنه مسلکي مدرسینو څخه ازموینه اخیستل شوې ده.
- د دارالعلوم د ۳۰ تنه استادانو علمي کادر او علمي رتبې اجرا شوي دي.
- د دې ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د مدرسینو دمسلکي پراختیا غړو له لوري د ۲۹٦ تنه مدرسینو او استادانو ارزونه تر سره شوې ده.
- د ساینس ریاست مرکز له لوري د دې ولایت پوهنې ریاست ساینس مدیریت ۹ تنه علمي غړو ته سمینار دایر شوی دی.
- د رشتې سره سم دښوونکو د توظیفولو د لارښود د تطبیق په هکله د ولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښونیزو مرکزونو ته لارښوونه تر سره شوې ده.
- د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د رشتې سره سم ښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه ډاډ تر لاسه کولو په منظور حمایوي څارنه ترسره شوې ده.
- د پوهنې ریاست د کارکوونکو چارو عمومي مدیریت له لوري د ښوونکو ۹۱ خالي بستونه تثبیت شوي دي.

3. نصاب

- د۲۸۵ عنوانه تدوین شوو کتابونو تشریح او لارښوونې په برخه کې ۱ ورکشاپ په لاره اچول شوی دی.
- د اسلامې زده کړو معینیت له لوري د کلیوالي مدرسو د نصاب ۸۳۸,۴ ټوکه درسیکتابونه خوست ولایت ته را استول شوي او ویشل شوي دي.
- دبدني روزنې د ښوونکو د لارښود ۳۳۹ ټوکه کتابونه ویشل شوي دي.
- د دې ولایت په مرکز او۱۲ولسوالیو کې د سواد زده کړې برنامې دضرورت وړ کتابونو اړتیا سنجونه تر سره شوې ده. چې د نوموړې اړتیا سنجونې له مخې د خوست ولایت په کچه د سواد زده کړو ۹۱۹,۱ سیټه کتابونو ته اړتیا ده.
- د دې ولایت د کلیوالي مدرسو لپاره ۸۳۸,۴ ټوکه درسي کتابونه انتقال او وېشل شوي دي.
- د دې ولایت د عمومي زده کړو لپاره ۵۱۰,۱۵ ټوکه درسي کتابونه انتقال او وېشل شوي دي.

5. ښوونیز چاپېریال

- د دې ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې ۱۴۰ بابه بې ښوونکي ټولګي پیژندل شوي دي.
- د دې ولایت په مرکز او ۱۲ولسوالیو کې ۳۰ بابه ښوونیز مرکزونه پیژندل شوي چې پر ښوونکو د زده کوونکو نسبت یې له ټاکل شوي نورم څخه ټیټ دی.
- د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري د صنفي اصولو په دوره کې دښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په منظور حمایوي څارنه تر سره شوې ده.
- د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري د ښوونیز کال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د وېش له بهیر څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.
- له لومړنۍ دورې څخه منځنۍ دورې ته ۲بابه ښوونځي لوړ شوي دي.
- د ۳ بابه ښوونځیو نومونه تبدیل شوي دي.
- د۴ بابه خصوصي ښوونځیو او۲۸ بابه کورسونو نومونه تائید شوي دي.
- د دې ولایت د مرکز په ښوونیزو مرکزونو کې ۴۰۸ نیالګي کښېنول شوي دي.
- د رسمي ښوونکو له لارې د سواد زده کړو۱۳۷ کورسونه رامنځته شوي دي.
- د دې ولایت په مرکز کې ۲ بابه سواد زده کړې کورسونه د ملا امامانو له لارې رامنځته شوي دي.
- د دې ولایت مرکز کې ۲ بابه کورسونه د قرار دادي ښوونکو له لوري د کوچیانو لپاره رامنځته شوي دي.
- ۴ بابه خصوصي ښوونځي او۲۸ بابه خصوصي کورسونه نوي تاسیس شوي دي.
- د۱۴ بابه خصوصي ښوونځیو جوازونه تمدید شوي دي.

- ۱ باب خصوصي ښوونځی د لومړنۍ دورې څخه منځنۍ دورې ته او ۴ بابه خصوصي ښوونځي له منځنۍ دورې څخه لېسې دورې ته لوړ شوي دي.
- د ۵ بابه خصوصي ښوونځیو او ۱ باب خصوصي کورس د ملکیت لیږد ترسره شوی دی.
- د ۱۴۰۵ کال د پلان لپاره دنیمه کاره ودانیزو پروژو نوملړ چمتو شوی دی.
- د پوهنې وزارت د عادي بودجې څخه د ګواښ سره مخ ۹ بابه ښوونیز او اداري تاسیسات ترمیم شوي دي.
- د مرکزي ټیم له لوري په دې ولایت کې د ولایت په کچه د اسلامي امارت او همکارو مؤسسو له بودجې څخه د پوهنې وزارت او همکارو مؤسسو د ٦٢ ترمیماتي پروژو له تطبیق او بشپړولو څخه مقطعي څارنه تر سره شوې ده.
- په دې ولایت کې دهمکارو مؤسسو له لوري د۲۳ بابه ښوونیزو مرکزونو ودانیزې پروژې ترسره شوي دي.
- په واحد فارمټ کې د دې ولایت په کچه د ودانیزو موادو قیمتونه۴ ځله راټول او د اړونده مراجع سره شریک شوي دي.
- د دې ولایت پوهنې ریاست ته ۱۸ قلمه مطبوع قرطاسیه وېشل شوې ده.

### 6. د ټولنې کډون

- په دې ولایت کې د پوهنپاله اشخاصو له لوري ۵ جریبه ځمکه د مظهر العلوم مدرسې ته وقف شوې ده.
- د کلیو په کچه د سواد زده کړو ۹۵ کمېټې رامنځته شوي دي.
- د ولایت په کچه د سواد زده کړو د کمېټو ۱ غونډه، د ولسوالیو په کچه د سواد د کمیټو ۱۲ غونډې او د کلیو په کچه د سواد د کمیټو۳۰۵ غونډې تر سره شوي دي.

### 7. مدیریت

- د دې ولایت د۴۵ تنه زده کوونکو ترنسکرېټونه او۴۵ تنه زده کوونکو ښونیز سوابق ترتیب شوي دي.
- د دې ولایت د مرکز او ۱۲ولسوالیو د ۵۰ بابه ښوونځیو د نظم اود سپلین څخه څارنه تر سره شوې ده.
- د ساینس مرکز په تشو بستونو کې ۴ تنه علمي غړي د ازاد رقابت له لارې ګمارل شوي دي.
- د ساینس مرکز مدیریت له لوري د اسلامي زده کړو ۲۵ بابه اود عمومي زده کړو د ۱۴۱ بابه ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټر لبونو څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.
- د ولایت د مرکزي هستې د ښوونکو او مسلکي پراختیا ټیم له لوري د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا له ۱۲ټیمونو څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د عمومي زده کړو د ۳۷۰ بابه ښوونځیو څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.
- د سواد زده کړې د۳۰۵ کورسونو څخه څارنه تر سره شوې ده.
- د۴۷۸,۷ ښوونکو د تدریس له جریان څخه لیدنې تر سره شوي دي.
- د ۳۷۰ تنه سر ښوونکو د کاري چارو څخه لیدنه تر سره شوې ده.
- د ۳۷۰ تنه ښوونیزو مرکزونو آمرینو/ مدیرانو د مسلکي کار کړنو څخه لیدنه تر سره شوې ده.
- د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو له لوري ۱۰ ولایتي علمي راپورونه چمتو شوي دي.
- د ۴۷بابه ښوونیزو بنسټونو ارقام تائید او تصدیق شوي دي.
- د پوهنې وزارت د څارنې او ارزونې ریاست د څارنې ټیم له لوري د پوهنې ریاست د مرکزي هستې مدیریتونو او د همکارو مؤسسو د پروژو څخه ۱ ځلڅارنه تر سره شوې ده.
- د دې ولایت څخه د څارنې او ارزونې ریاست ته د عملیاتي پلان د دپرمختګ ۴ ربعوار تشریحي راپورونه استول شوي، چې د څارنې او ارزونې ریاست د راپور ورکولو د کارپوهانو له لوري اصلاح شوي دي.

- د دې ولایت د اسلامي زده کړو د دارالعلوم ۳ فارغانو ۳ متفرقه شهادتنامې او ښوونکو د روزنې۳ متفرقه شهاتنامې اجرا شوي دي.
- د امارتي او خصوصي ښوونځیو ۱٦۹٫۱ شهادتنامې، د دارالعلوم ۱٦ شهادتنامې او د ښوونکو روزنې برنامې ۷ شهادتنامې په انفرادي ډول اجرا شوي دي.
- د امارتي ښوونځیو او خصوصي ښوونځیو۹۴۰٫۷ شهادتنامې او اسلامی زده کړو ۴۵شهادتنامې په گروپي ډول اجرا شوي دي.
- ۹۳۴٫۲۴ قطعې سپینې شهادتنامې د وزارت څخه دي ولایت ته راستول شوي دي.
- د ۱۴۰۳ کال د امارتي ښوونځیو د فارغانو د پایلو ۱۱۷ جدولونه، د خصوصي ښوونځیو د فارغانو د پایلو۷۲ جدولونه، د اسلامي زده کړو د فارغانو ۵ جدولونه او دسامع فارغانو د پایلو ۱۴۳ جدولونه تائید شوي دي.
- ۹ جایدادونه پیژندل شوي چې د غصب په حالت کې قرار لري، په عدلي او قضایي ارگانونو کې د پوهنې وزارت ۵ غصبي جایدونه تعقیب شوي دي او د عدلي او قضایي ارگانونو سره په همغږۍ ۲ جایدادونه د غصب څخه خلاص شوي دي.
- ۳۸ ودانۍ د ښوونیزو مرکزونو لپاره په کرایه نیول شوي دي او ۲۰ کانتینونه په کرایه ورکړل شوي دي.
- د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند ۱۳ پوهنې آمرینو،۴ برنامو آمرینو او ۳ عمومي مدیرانو کاري پلانونه ترتیب او منظور شوي دي.
- د کار کوونکو چارو مدیریت له لوري د ۲٦۵ تنو کار کوونکو ارزونه تر سره شوې ده او د ۱۱۱ تنه کار کوونکو ظرفیت لوړ شوی دی.
- د مرکز څخه دې ولایت پوهنې ریاست ته ۱۸۰ ټوکه عرفان مجلې، ۱۸۳ ټوکه د بخوان وبیندیش مجلې او۰۴۱٫۱ د پوهنې اوونیزې را استول شوي چېاړونده پوهنې آمریتونو ته ویشل شوي دي.

## د پام وړ ستونزې او حل لارې

- د اسلامي زده کړو برنامې د طالب العلمانو جذب او شمولیت کم دی، د بدل اعاشې په ورکړې سره به د طالب العلمانو جذب او شمولیت زیات شي.
- د امکاناتو او بودجې کموالی او نشتون . د ځینې کړنو د تر سره کولو لپاره امکانات او بودجه ضرور ده باید ورته برابره شي.
- داسلامي زده کړو برنامې د بستونو کمښت او نه شتون. د اسلامي زده کړو برنامې ته دې د اړتیا وړ بستونه او تشکیل ورکړل شي.
- د انټرنېټ ظرفیت ټیټوالی، د انترنیت ظرفیت دې لوړ شي.

## د عملياتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ

**دا برخه د پرمختګونو، احصاییوي معلوماتو او شمېرو تحلیل او تفسیر په بر کې نیسي، چې د عملیاتي پلان د ټاکل شوو عناصرو او لومړیتوبونو لرونکې ده. پرمختګونه د هر پروګرام په کچه د ټاکل شوو شاخصونو او موخو له مخې په مفصل ډول تشریح کېږي.**

### برنامه 1: اسلامي زده کړې

### 1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی

#### 1.1.1 لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو ته په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

**1.1 فعالیت: په مدرسو او دارالحفاظونوکې د طالب العلمانو جذبول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ۱۲ ولسوالیو په مدرسو او دارالحفاظونو کې ۱۳۷,۱۵ تنه نارینه طالب العلمان نوي جذب شوي دي، چې په دې جذب سره د زده کړو په شرایطو برابرو ماشومانو او لویانو لپاره د زده کړې کولو زمینه برابره شوې ده.**

**1.2 فعالیت: په دارالعلومونوکې د شمولیت زیاتوالی**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکزي دارالعلوم د ۱-۳ پورې ټولګیو کې ۴ تنه نارینه طالب العلمان، د۴-٦ پورې ټولګیو کې ۳ تنه نارینه طالب العلمان، د۷-۹ پورې ټولګیو کې ۴ تنه نارینه طالب العلمان، د۱۰-۱۱ پورې ټولګیو کې ۱تن نارینه طالب العلم او د۱۲-۱۴ پورې ټولګیو کې ۲۰ تنه نارینه طالب العلمان نوي شامل شوي دي، چې پدې سره د زده کړو په شرایطو برابرو ماشومانو او لویانو ته دزده کړې کولو زمینه برابره شوې ده.**

**1.3 فعالیت: اسلامي زده‌کړو د مرکزونو په مُِبیت (لیلیه) کې جذب شوي طُلاب:**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د ٦ ولسوالیو( تریزی او علیشیرو، ګربزو، تڼیو، موسی خیلو، ځاځی میدان او سپېرې ولسوالیو) په لیلیه مدرسو کې ۴٦۵ تنه نارینه طالب العلمان شامل شوي دي.**

#### 1.1.2 لومړیتوب: د شهادتنامو وېش

**2.1 فعالیت: د ثانوي او مافوق ثانویه دورې له طالب العلمانو څخه د ازموینې اخیستنه:**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې په دې ولایت کې دثانوي او مافوق ثانویه دورې له طالب العلمانو څخه ۱ ازموینه اخیستل شوې ده.**

**2.2 فعالیت: د خامسه او حفظ فارغانو لپاره د فراغت اسنادو وېش:**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ولسوالیوخامسه او حفظ فارغانو لپاره دفراغت ۳۲۴سندونه ویشل شوي دي.**

#### 1.1.3 لومړیتوب: د شهادتنامو چاپ او وېش

**3.1 فعالیت: د عالیه دورې د شهادتنامو چاپ او وېش:**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې په دې ولایت کې دعالیه دورې ۱۲۳ شهادتنامې چاپ او ویشل شوي دي.**

### 1.2 مدرس/ استاد/ښوونکی

#### 1.2.1 لومړیتوب: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

**1.1 فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لاربنوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د دې ولایت پوهنې ریاست ته د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لاربنود نه دی راستول شوی.**

**1.2 فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د دارالعلومونو او مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لاربنوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د دې ولایت پوهنې ریاست ته د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لاربنود نه دی راستول شوی.**

### 1.2.2 لومړیتوب: د صنفي اصولو/ لومړۍ دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو په موخه د اړینو تدبیرونو نیول

**2.1 فعالیت: د لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لاربنوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د صنفي اصولو / لومړۍ دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو لاربنود نه دی راستول شوی. له همدې امله یاد فعالیت نه دی تر سره شوی.**

**2.2 فعالیت: د لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او دارالعلومونو او مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لاربنوونه:**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د صنفي اصولو / لومړۍ دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو لاربنود نه دی راستول شوی. له همدې امله یاد فعالیت نه دی تر سره شوی.**

### 1.2.3 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د خالي بستونو لپاره د رشتې مطابق د مسلکي مدرسینو پر وخت گمارنه

**3.1 فعالیت: د کړنلارې مطابق د مرکز او ولایتونو په کچه د خالي بستونو لپاره د رشتې سره سم له مسلکي مدرسینو څخه ازموینه اخیستل**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ولسوالیو په خالي بستونو کې د رشتې سره سم له ٦٨ تنه مسلکي مدرسینو څخه ازموینه اخیستل شوې او بریالي شوي هم دي.**

### 1.2.4 لومړیتوب: د علمي کادر اجراء کول

**4.1 فعالیت: د دارالعلومونو د استادانو د علمي کادر او علمي رتبې اجراء کول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د دارالعلوم د ۳۰ تنه استادانو علمي کادر او علمي رتبې اجرا شوي دي.**

### 1.2.5 لومړیتوب: د نویو مقرر شوو استادانو او مدیرانو د وړتیاوو لوړول او مسلکي پراختیا

**5.1 فعالیت: په هغو دارالحفاظونو او مدرسوکې چې د حفظ شعبې لري د حفظ استادانو لپاره سمینار وړاندې کول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مدرسو او دارالحفاظونو ریاست له لوري د دې ولایت په هغو دارالحفاظونو او مدرسو کې چې د حفظ شعبې لري د حفظ استادانو لپاره سمینارونه نه دي دایر شوي.**

### 1.2.6 لومړیتوب: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا غړو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول

**6.1 فعالیت: د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دارالعلومونو ریاست له لوري د دې ولایت د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو لپاره مسلکي ورکشاپونه نه دي دایر شوي.**

### 1.2.7 لومړیتوب: د طالب العلمانو د درسي پروګرامونو د تطبیق او د زده‌کړې د ارزونې د پایلو اوسط د بررسي کولو په منظور د هیئت لېږل

7.1 فعالیت: د طالب العلم د درسي پروګرامونو د تطبیق او زده‌کړې ارزونې د پایلو د اوسط څېړنه:

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې په دې ولایت کې دطالب العلمانو د درسي پروګرامونو دتطبیق او زده کړې ارزونې دپایلو اوسط څېړنه نده ترسره شوې.

### 1.2.8 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو په ښوونیزو مرکزونو کې د مدرسینو او استادانو د ارزونې برسي کول

8.1 فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو له لوري د مدرسینو او استادانو د ارزونې څېړنه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د مدرسینو دمسلکي پراختیا غړو له لوري د۲۹٦ تنه مدرسینو او استادانو د ارزونې څېړنه ترسره شوې ده.

### 1.2.9 لومړیتوب: له ولایتونو څخه د راغلو راپورونو تحلیل او تجزیه

9.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا غړو د رارسېدلو راپورونو تحلیل او تجزیه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مسلکي پراختیا غړو د را رسیدلو راپورونو تحلیل او تجزیه نه ده تر سره شوې.

## 1.3 نصاب

### 1.3.1 لومړیتوب: د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو په کچه په ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونیز کال له پیل مخکې د درسي کتابونو ویش

1.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د ۲۸ عنوانه تدوین شوو کتابونو تشریح او لاربښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مدرسو او دارالحفاظونو ریاست له لوري د دې ولایت د پوهنې ریاست په کچه ۲۸د عنوانه تدوین شوو کتابونو د تشریح او لاربښوونو په برخه کې ۱ ورکشاپ په لاره اچول شوی دی.

### 1.3.2 لومړیتوب: د دیني مدرسو د ښوونیز نصاب سره سم د اسلامي زده‌کړو معینیت ښوونیزو مرکزونو لپاره د درسي کتابونو پېرل

2.1 فعالیت: د دیني مدرسو د نصاب مطابق د درسي کتابونو وېش:

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اسلامي زده کړو معینیت له لوري ۸۳۸,۴ ټوکه دکلیوالي مدرسو د نصاب تدریسي کتابونه دې ولایت ته راستول شوي دي. چې د مرکز او ۱۲ ولسوالیو مدرسو ته ویشل شوي دي.

## 1.4 ښوونیزه ارزونه

### 1.4.1 لومړیتوب: د علماء کرامو د اسنادو ارزونه او د سویې تثبیتول

1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د دوولسم ټولګي او څوارلسم ټولګي د علماء کرامو د سویې تثبیتول:

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه د ۱۰۲ تنه علماؤ کرامود دوولسم ټولګي او ۱۷ تنه علماؤ د څوارلسم ټولګي د سویې تثبیت ترسره شوی دی.

### 1.4.2 لومړیتوب: د ولایتونو په کچه د ګډې ازموینې اخیستل

2.1 فعالیت: دثانویه مرحلې،(دثالثه،رابعه او خامسه)درجو ګډه ازموینه اخیستل

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اسلامي زده کړو معینیت له لوري په دې ولایت کې د ٦٦٢ تنه طالب العلمانو څخه دثانویه مرحلې،(دثالثه، رابعه او خامسه) درجو ګډه ازموینه اخیستل شوې ده.

2.2 فعالیت: د فوق ثانویه مرحلې، (د سادسه او سابعه) درجو ګډه ازموینه اخیستل
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اسلامي زده کړو معینیت له لوري په دې ولایت کې د ۴۳۷ تنه طالب العلمانو څخه دفوق ثانویه مرحلې،(دسادسه او سابعه)درجو ګډه ازموینه اخیستل شوې ده.

## 1.5 ښوونیز چاپیریال

### 1.5.1 لومړیتوب: په مرکز او ولایتونوکې د مدرسو رامنځته کول

1.1 فعالیت: د نارینه طالب العلمانو لپاره د دیني مدرسو رامنځته کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مدرسو او دارالحفاظونو ریاست له لوري په دې ولایت کې د نارینه طالب العلمانو لپاره نوې دیني مدرسې ندي تاسیس شوي.

### 1.5.2 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د رسمي مرکزونو رامنځته کول، د نوم بدلول، ارتقاء، د نوعیت بدلون او مُبیت رامنځته کول

2.1 فعالیت: په ۳۴ ولایتونوکې د لیلیې رامنځته کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اسلامي زده کړو معینیت له لوري په دې ولایت کې د اسلامي زده کړو مرکزونو ته لیلیې ندي تاسیس شوې.

2.2 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د نویو ښوونیزو مرکزونو تأسیسول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اسلامي زده کړو معینیت له لوري په دې ولایت کې د اسلامي زده کړو نوي ښوونیز مرکزونه ندي تاسیس شوي.

2.3 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوعیت بدلون
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه د خلکو د نه غوښتنې په اساس د اسلامي زده کړو د ښوونیزو مرکزونو دنوعیت بدلون ندی تر سره شوی.

2.4 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوم بدلون
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې په دې ولایت کې د خلکو د نه مراجعې له امله د اسلامي زده کړو دښوونیزو مرکزونو د نوم بدلون ندی تر سره شوی.

2.5 فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسې لوړېدل
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د معیار د نه پوره کولو له امله په دې ولایت کې کومه مدرسه دارالعلوم ته نه ده لوړه شوې.

2.6 فعالیت: دارالعلوم ته د ارتقاء لپاره د مدرسو څېړنه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې دارالعلوم ته د لوړولو لپاره د دې ولایت د مدرسو څخه ۱۰۰سلنه څېړنه ترسره شوې ده.

## 1.6 د ټولنې ګډون

د اسلامي زده کړو پروګرام په دې برخه کې هیڅ ډول لومړیتوب یا فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل.

## 1.7 مدیریت

### 1.7.1 لومړیتوب: د دارالعلومونو د استادانو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل

**1.1 فعالیت: د دارالعلومونو د استادانو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه په دارالعلوم کې د استادانو،مامورینو او اجیرانو د گمارنې ازموینه نده اخیستل شوی ځکه چې خالی بستونو شتون نه درلود.**

**1.7.2 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تشکیلاتي اړتیاوو د رفع کولو په موخه د بستونو وېش**

**2.1 فعالیت: هغو مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد چې بست ته اړتیا لري:**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اسلامی زده کړو مرکزونو دبستونو ویش او لیږد چې بست ته اړتیا لری لدې کبله ندی ترسره شوی چې د اسلامی زده کړو امریت اضافی کوډونه نه لري.**

**1.7.3 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تآسیسولو په موخه د بستونو وېش**

**3.1 فعالیت: جدیدالتأسیس مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اسلامي زده کړو نویو تاسیس شویو مرکزونو ته دبستونو ویش او لیږد د بستونو دنه شتون له امله نه دی ترسره شوی.**

## برنامه 2:ښوونه او روزنه

### 2.1 زده کووونکی

**2.1.1 لومړیتوب: د ټول ګډونه شمولیت لپاره عامه پوهاوی او د زده کړو په شرایطو برابرو ماشومانو زده کړه**

**1.1 فعالیت: د ۱۴۰۵ ښوونیزکال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دایرولو په منظور د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د ښوونیزو مرکزونو د شوراګانو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې ریاست په کچه د وزارت د ښوونکو روزنې او مسلکی پراختیا ټیم له لوري دعامه پوهاوي برنامه او لارښوونه په لاره نده اچول شوې، مګر د پوهنې ریاست دښوونکو روزنې او مسلکی پراختیا ټیمونو له لوري دولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه ۱۰۰سلنه لارښوونه ترسره شوې ده.**

**1.2 فعالیت: د مرکز، ولایتونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي برنامې دایرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه  دا عامه پوهاوي غونډې، د ولسوالیو په کچه ۱۲ غونډې او د ښوونیزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي ۳۷۰ پروګرامونه او غونډې ترسره شوي دي.**

**1.3 فعالیت: د ښوونځیو د شوراګانو له کړنو څخه ملاتړیزه څارنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ولسوالیو د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري د ۷۷٦ بابه ښوونځیو د شوراګانو څخه حمایوي څارنه ترسره شوې ده چې د نومورې څارنې په پایله کې د یادو شوراګانو فعالیتونه ښه او چټک شوي دي.**

**1.4 فعالیت: د بېلابېلو کچو په سرو او تودو سیموکې لارښوونه او د عامه پوهاوي برنامې دایرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه ۱۰۰سلنه او د مرکز او ولسوالیو د ښوونیزو مرکزونو په کچه ۱۰۰سلنه عامه پو هاوي تر سره شوي دي چې په ښوونیزو مرکزونو کې د ماشومانو د شمولیت کچه لوړه شوې ده.**

**1.5 فعالیت: د غږیزو او انځوریزو رسنیو له لارې د عامه پوهاوي پیغامونو خپرول او د تبلیغاتي بروشرونو او پاڼو چاپول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د سواد زده کړې مدیریت له لوري په مرکز او ۱۲ولسوالیو کې ۳۹ پیغامونه د بروشرونو او تبلیغاتي پاڼو د چاپ له لارې خپاره شوي دي چې پدې سره په ښوونیزو مرکزونو کې د ماشومانو د شمولیت کچه لوړه شوې ده.

**2.1.2 لومړیتوب: د زده کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول**

**2.1 فعالیت: په ټولو ښوونیزو مرکزونوکې د زده کوونکو غیرحاضري او د زده کړې پرېښودل ۲ سلنه ټیټوالی مومي**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې د زده کوونکو د زده کړې پرېښودلو ۲سلنه او دغیر حاضرۍ د۲سلنه کموالی رامنځته شوی دی.

**2.2 فعالیت: د لومړنۍ دورې د جدیدالشمولانو جذبول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ۱۲ولسوالیو د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې ۶۳۸,۱۸ تنه نارینه او ۳۱۱,۶ تنه ښځینه زده کوونکي نوي جذب شوي دي.

**2.3 فعالیت: په لومړنۍ، منځنۍ او لېسه دوروکې د ټولګي د تثبیت او سویې ازموینې له لارې د مجاهدینو، راستنېدونکو، تر لندمهاله ښووني لاندې او سوابقو راوړونکو جدیدالشمولانو جذبول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ۱۲ ولسوالیو د عمومي زده کړو ښوونځیو په لومړنۍ دوره کې ۲۷۶,۵ تنه، په منځنۍ دوره کې ۶۰۴ تنه او په لېسې دوره کې ۳۱ تنه مجاهدین او بیرته راستنیدونکي د ټولګي د تثبیت او سویې ازموینې له لارې نوي شامل شوي دي.

**2.4 فعالیت: د کوچیانو د جدیدالشمولانو زده‌کوونکو جذبول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز، ګربزو او علیشیرو ولسوالیو کې ۲۳۶ تنه د کوچیانو په ښوونځیو نوي جذب شوي دي.

**2.5 فعالیت: په مرکز او ولایتونوکې د پوهنې د همکارو مؤسسو له لوري له ښوونځي مخکې برنامه کې د جدیدالشمولانو جذبول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د پوهنې همکارو مؤسسو له لوري ۲۳۶ تنه د ښوونځي مخکې برنامه کې نوی شامل شوي دي.

**2.6 فعالیت: له پولې بهر راستنېدونکو او مجاهدینو د ښوونیزو اسنادو نه لرونکو متقاضیانو د ټولګي تثبیت**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې ۸۵۴ تنه راستنېدونکي او متقاضیان د ټولګي له تثبیت وروسته اړونده ټولګیو ته معرفي شوي دي.

**2.1.3 لومړیتوب: د زده کړو په شرایطو برابرو لویانو لپاره د شمولیت د زمینې برابرول**

**3.1 فعالیت: له اړوندو مرکزونو سره په همکارۍ د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې محل کې په شرایطو برابرو ټولو لویانو د نوملړ چمتوکول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۲ولسوالیو کې په شرایطو برابرو لویانو نوملړ چمتو شوی دی چې د هغې له مخې خوست ولایت کې ۰۴۸,۲ تنه په شرایطو برابر سواد زده کوونکي شتون لري.

**3.2 فعالیت: دکوچیانو په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز کې د کوچیانو په شرایطو برابر ۳۰ تنه لویان د سواد زده کړې په کورسونو کې شامل شوي دي.

**3.3 فعالیت: د جوماتونو د ملا امامانو له لارې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د جوماتونو د ملا امامانو له خوا ۲۵ تنه په شرایطو برابر لویان د سواد زده کړې په کورسونو شامل شوي دي.

**3.4 فعالیت: د سواد زده‌کړې په کورسونو، حیاتي سواد او حرفوي ښوونځیوکې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ۱۲ ولسوالیو د سواد زده کړو په کورسونو کې ۱۷۵,۳ تنه سواد زده کوونکي شامل شوي دي.

**3.5 فعالیت: د راستنېدونکو او داخلي بې ځایه شوو شمولیت**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې نوموړې فعالیت د بودجې د نه شتون له امله نه دی تر سره شوی.

## 2.1.4 لومړیتوب: د روغتیایي مرکزو په مرسته د جدیدالشمولانو د روغتیا په ځانګړې توګه د اورېدلو، لیدلو، ژامو،خولې، غاښونو او ساري ناروغیو د معایناتو څخه ډاډ ترلاسه کول

**4.1 فعالیت: د جدیدالشموله زده‌کوونکو له روغتیایي سموالي څخه اطمینان**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت پوهنې ریاست روغتیا مدیریت له لورې د مرکز، اسمعیل خیلو او تڼیو ولسوالۍ ښوونځیو ته صحي فورمې ویشل شوي دي او د ۵۷۴ تنه نویو شامل شویو زده کوونکو له روغتیایي وضعیت څخه ډاډ تر لاسه شوی دی.

## 2.1.5 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د اوبو، روغتیا ساتنې، نظافت( WASH) د برنامو تطبیق او د لومړنیو مرستو د کېټونو او تبلیغاتي روغتیایي موادو وېش

**5.1 فعالیت: د زده کوونکو او ښوونکو لپاره د پوهاوي ورکولو برنامو دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د اوبو، روغتیا ساتنې، نظافت( WASH) برخو کې د عامه پوهاوي برنامې دایرې شوي دي، چې۲۸۰,۳ تنه زده کوونکي او ۱۲۰ تنه ښوونکي ور څخه برخمن شوي دي.

**5.2 فعالیت: د روغتیایي تبلیغاتي موادو، د حفظ الصحې او نظافت کیتونو او لومړنیو مرستو وېش**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت مرکز او ۱۲ ولسوالیو ته ۰۰۰,٦ قطعې روغتیایي تبلیغاتي مواد، د ۱۰ په شمیر اولیه کیټونه او ۱۰ په شمیر د حفظ الصحې او نظافت کیټونه ویشل شوي دي.

## 2.1.6 لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیوکې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو د محوه‌کولو سراسري کمپاین

**6.1 فعالیت: د ښوونځیو د کچې ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو ضد تابلېټو وېش**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د پوهنې وزارت څخه د کولمو د چینجیو ضد تابلیټ دې ولایت نه دي را استول شوي.

## 2.1.7 لومړیتوب: د ښوونځیو په کچه د سیالیو په لاره اچول او د ورزشي څېرو پېژندنه

**7.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونوکې د پوهنې د منتخبو ټیمونو د غوراوي لپاره په ښوونځیوکې د پسرلنیو او خزاني، مناسبتي او دوستانه سیالیو په لاره اچول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۲ولسوالیو کې د پوهنې د منتخبو ټیمونو د غوراوي په موخه د مرکز او ۱۲ ولسوالیو په ښوونځیو کې ۲۲۰ دوستانه سیالۍ په لاره اچول شوي دي.

**7.2 فعالیت: په ملي او نړۍ‌والو سیالیوکې د پوهنې د منتخبو ټیمونو د ورزشکارانو ګډون**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت څخه ملي او نړيوالو سياليو ته د پوهنې منتخب ټيمونه نه دی استول شوي.

### 2.1.8 لومړيتوب: په خصوصي مرکزونوکې د ښوونې او روزنې د زمينې برابرول

**8.1 فعاليت:** د هغو زده‌کوونکو د درې کلنو نمرو ترتيبول او ژباړل چې د زده‌کړې د ادامې په موخه له هېواده بهر سفرکوي

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د مرکز او ولسواليو پوهنې امريتونو ۴۵ تنه زده کوونکو ته درې کلنې نمرې ترتيب او ژباړل شوي او بهرنيو هېوادونو ته لېږل شوي دي.

**8.2 فعاليت:** د اړوندو قوانينو او لارښودونو مطابق د خصوصي ښوونيزو مرکزونو د زده‌کوونکو د تصديق‌ليکونو اجراکول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت مرکز او ۱۲ ولسواليو پوهنې آمريتونو څخه د اړوند قوانينو او لارښودنو مطابق د خصوصي ښوونيزو مرکزونو د۴۵ تنه زده کوونکو تصديق ليکونه اجرا شوي او بهرنيو هېوادنو ته استول شوي دي.

**8.3 فعاليت:** په خصوصي ښوونځيو او ښوونيزوکورسونوکې د يتيمو، بې وزله ماشومانو، د شهيدانو ورثې او معلولينو د فيس د تخفيف اجرا کول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په کچه ۹ تنه بې وزله ماشومان خصوصي ښوونځيو ته ور معرفي شوي دي.

### 2.1.9 لومړيتوب: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د المپياد(علمي سياليو) او د ساينس او رياضياتو د عملي پروژو دايرول

**9.1 فعاليت:** د لارښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياست لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ساينس مرکز رياست له لوري د دې ولايت پوهنې رياست ته د نوموړي لارښود په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

**9.2 فعاليت:** د لارښود د تطبيق لپاره د ولسواليو د پوهنې د آمريتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د پوهنې رياست د ساينس عمومي مديريت له لوري د دې ولايت مرکز او ټولو ولسواليو پوهنې آمريتونو ته د نوموړي لارښود د تطبيق په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

**9.3 فعاليت:** د لارښود د تطبيق لپاره د ښوونيزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د مرکز او ولسواليو پوهنې آمريتونو له لوري ښوونځيو ته د نوموړي لارښود د تطبيق په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

**9.4 فعاليت:** د ښوونيزو مرکزونو په کچه د علمي سياليو او عملي پروژو دايرول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په ښوونيزو مرکزونو کې علمي سيالۍ او عملي پروژې دايرې شوي دي.

**9.5 فعاليت:** د ولسواليو د پوهنې آمريت په کچه د علمي سياليو او عملي پروژو دايرول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په پوهنې امريتونو کې د پوهنې آمريتونو او ساينس مرکز مديريت له لوري د پوهنې آمريتونو په کچه علمي سيالۍ او عملي پروژې دايرې شوي دي.

**9.6 فعاليت:** د ولايتونو د پوهنې د رياستونو په کچه د علمي سياليو او عملي پروژو دايرول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې  د دې ولايت په کچه د پوهنې رياست د ساينس مرکز مديريت له لوري علمي سيالۍ او عملي پروژې دايرې شوي دي.

## 2.2 ښوونکی

### 2.2.1 لومړیتوب: د ورسپارل شوو دوند د پرمخ وړلو په منظور د ساينس مرکز د مرکزي او ولايتي علمي غړو روزنه

**1.1 فعاليت: د مرکز او ولايتونو د ساينس مرکزونو د علمي غړو لپاره د ښوونيزې برنامې دايرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په کچه د پوهنې وزارت د ساينس رياست مرکز له لوري د ساينس مرکز مديريت ۹ تنه علمي غړو ته ښوونيزې برنامې دايرې شوي دي.

### 2.2.2 لومړیتوب: د رشتې خلاف او غير مسلکي ښوونکو او مديرانو د وړتيا لوړل او مسلکي پراختيا

**2.1 فعاليت: د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکيتوب يوه کلنه برنامه دايرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د مسلکي پراختيا دمرکزي هستې ټيم له لوري د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکيتوب يوه کلنه برنامه به د رشتې خلاف ښوونکو د پيژندنې تر بشپړيدو وروسته دايره شي.

**2.2 فعاليت: د ساينس، رياضياتو او کمپيوټر د غيرمسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانتونو ظرفيت لوړول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ساينس مرکز رياست له لوري د دې ولايت ۳۰ تنه د ساينس، رياضياتو او کمپيوتر د غير مسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانتونولپاره د ظرفيت لوړولو برنامې دايرې شوي دي.

### 2.2.3 لومړیتوب: د ساينس، رياضياتو اوکمپيوټر د ښوونکو او ښوونيزو مرکزونو د لابرانټانو وړتيا لوړول او مسلکي پراختيا

**3.1 فعاليت: د ښوونيزو مرکزونو د ساينس، رياضياتو او کمپيوټر ښوونکو او لابرانتونو لپاره د ورکشاپونو دايرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې په دې ولايت کې د ښوونيزو مرکزونو دساينس، رياضياتو او کمپيوټر د۱۱۰ تنو ښوونکو او لابرانتونو لپاره ورکشاپونه داير شوي دي.

### 2.2.4 لومړیتوب: د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو حلولو لپاره د تدبيرونو نيول

**4.1 فعاليت: د رشتې خلاف ښوونکو د پيژندنې په برخه کې د ولايتونو د پوهنې رياست او ولسواليو د پوهنې آمريتونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې  د رشتې خلاف ښوونکو د پيژندنې په برخه کې د مرکزي ټيم له لوري دې ولايت پوهنې رياست ته لارښوونه نه ده ترسره شوې، مګر د ولسواليو پوهنې امريتونو په کچه لار ښوونه تر سره شوې ده.

**4.2 فعاليت: د رشتې خلاف ښوونکو پيژندنه او معلومات راټولول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې دښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا ټيمونو له لوري په دې ولايت کې د رشتې خلاف ښوونکو په هکله معلومات راټول شوي دي.

### 2.2.5 لومړیتوب: د موجودو مدرسينو، استادانو او ښوونکو د رشتې سره سم توظيف لپاره اړين تدبيرونه نيول

**5.1 فعاليت: د رشتې سره سم د ښوونکو د توظيفولو د لارښود د تطبيق په برخه کې د ولايتونو د پوهنې رياست، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او ښوونيزو مرکزونو د کارکوونکو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې  د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا رياست له لوري رشتې د سره سم ښوونکو د توظيفولو د لارښود د تطبيق په برخه کې د دې ولايت  پوهنې ته لارښوونه تر سره شوې ده. همدارنګه د ولايت د ښوونکو د روزنې مسلکي پراختيا ټيم له لوري د مرکز او ۱۲ ولسواليو پوهنې امريتونو ته لارښوونه ترسره شوې ده. او د

ولسواليو پوهنې امريتونو د ښوونکو درزونې او مسلکي پراختيا ټيمونو له لوري دمرکز او ټولو ولسواليو ښوونيزو مرکزونو په کچه لارښوونه تر سره شوې ده چې ۱۰۰سلنه پرمختګ راښيي.

5.2 فعاليت: د رشتې سره سم ښوونکو د توظيفولو د لارښود له تطبيق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړيزه څارنه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د ولسواليو/ښوونيزو حوزو د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا ټيمونو له لوري په مرکز او ۱۲ولسواليو کې د رشتې مطابق ښوونکو د توظيفولو د لارښود له تطبيق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په منظور حمايوي څارنه ترسره شوې ده چې ۱۰۰سلنه پرمختګ راښيي.

**2.2.6 لومړيتوب: د صنفي اصولو لپاره د مناسب ترين ښوونکي د توظيف لپاره لازم تدبيرونه نيول**

6.1 فعاليت: د چمتو شوي لارښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياست، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او ښوونيزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې  د ښوونکی د روزنې او مسلکي پراختيا رياست له لوري د صنفي اصولو لپاره د مناسب ترين ښوونکي د ګمارنې د لارښود په هکله د دې ولايت پوهنې رياست ته لارښوونه تر سره شوې، د ولايت د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا ټيم له لوري د مرکز او ۱۲ولسواليو د پوهنې آمريتونو په کچه لارښوونه ترسره شوې او د ولسواليو د پوهنې امريتونو د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا ټيمونو له لوري د ښوونيزو مرکزونو په کچه لارښوونې تر سره شوي دي چې ۱۰۰ سلنه پرمختګ راښيي.

6.2 فعاليت: د لارښود له تطبيق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړيزه څارنه او د صنفي اصولو د دورې لپاره د مناسب ترين ښوونکي توظيفول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ولايت او ولسواليو/ښوونيزو حوزو د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا ټيمونو له لوري د دې ولايت په مرکز او۱۲ولسواليو کې د نوموړي لارښود له تطبيق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په منظور حمايوي څارنه تر سره شوې ده.

**2.2.7 لومړيتوب: په ټولو ولايتونو او ولسواليو کې د مسلکي پراختيا د غړو د ګمارنې بشپړول او هغوی ته د د ورسپارل شوو دندو د پرمخ وړلو لارښوونه کول**

7.1 فعاليت: د ولايتونو په کچه د مسلکي پراختيا غړو ګمارنه بشپړول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې  د دې ولايت په کچه۱۴  تنه د مسلکي پراختيا غړي د ازادې سيالۍ له لارې نوي ګمارل شوي دي.

7.2 فعاليت: د مسلکي پراختيا د غړو لپاره د دندو د چوکاټ، دندو د لايحو، څارنيزو وسايلو، د افکارو د روښانولو او مسؤوليت منني په اړه د معرفتي او رهنمودي ښوونيزې برنامې دايرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د نوموړي فعاليت د تر سره کولو په موخه د وزارت مقام څخه کوم ټيم دې ولايت ته سفر نه دی تر سره کړی.

7.3 فعاليت: د ولايتونو د مرکزي هستې د علمي غړو لپاره ښوونيز ټرينينګ دايرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت پوهنې رياست د مرکزي هستې ۱۲تنه مسلکي پراختيا غړو ته په پکتيا ولايت کې ښوونيزې برنامې دايرې شوي دي.

**2.2.8 لومړيتوب: د ښوونځيو د شورا د غړو لپاره د وړتيا لوړونې برنامو دايرول**

8.1 فعاليت: د شوراګانو د غړو ظرفيت لوړول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه د وزارت مقام څخه کوم ټیم  دې ولایت ته سفر نه دی تر سره کړی.

### 2.2.9 لومړیتوب: د نویو مقرر شوو ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا

**9.1 فعالیت: د جدیدالتقرر ښوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو ښوونیزې برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکزي هستې او ولسوالیو/ښوونیزو حوزو دښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري د د نویو مقرر شویو ښوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو ښوونیزې برنامې په لاره نه دي اچول شوي ځکه چې تر اوسه نوي ښوونکي نه دي مقرر شوي.

**9.2 فعالیت: د جدیدالتقرر سرښوونکو او مدیرانو لپاره د ظرفیت لوړولو ښوونیزې برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري په دې ولایت کې د نویو ګمارل شویو سرښوونکو او مدیرانو لپاره د ظرفیت لوړولو ښوونیزې برنامې ندي دایرې شوي ځکه چې تر دې وخته نوي سر ښوونکي او مدیران ندي مقرر شوي.

### 2.2.10 لومړیتوب: د ښوونکو، زده‌کوونکو او کارکوونکو لپاره د وړتیا لوړونې زمینې برابرول

**10.1 فعالیت: د ښوونکو لپاره د روغتیايي ورکشاپونو دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست/ د ښوونځیو د روغتیا آمریت له لوري په دې ولایت کې د ښوونکو لپاره روغتیايي ورکشاپ دایر شوی چې ۱۲تنه ښوونکي ورڅخه برخمن شوي دي.

**10.2 فعالیت: د روغتیا مدیرانو لپاره د ورکشاپونو دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست/ د ښوونځیو د روغتیا آمریت له لوري په دې ولایت کې د روغتیا مدیر لپاره ورکشاپ په لاره ندی اچول شوی.

**10.3 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د پوهنې د بدني روزنې د مسلکي او غیر مسلکي ښوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره د بدني روزنې (حرکي لوبو) ښوونیز سمینارونه په لاره اچول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست/ د بدني روزنې آمریت له لوري په دې ولایت کې د بدني روزنې د مسلکي او غیر مسلکي ښوونکو د وړتیا لوړولو لپاره د بدني روزنې (حرکي لوبو) ښوونیز سمینار په لاره اچول شوی دی چې ۲۱ تنه ښوونکي ور څخه برخمن شوي دي.

### 2.2.11 لومړیتوب: د سوادزده‌کړې برنامې ته د رضاکاره او افتخاري ښوونکو د جلب او جذب لپاره د سیمې د خلکو همکاري

**11.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د ښوونکي د کمښت د رفع کولو لپاره د ځایي خلکو له لوري افتخاري تدریس او د غیر رسمي ښوونکو توظیفول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د دې ولایت په ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونکو د کمښت د رفع کولو لپاره د ځایي خلکو له لوري ۱ تن ښوونکی  توظیف شوی دی.

## 2.3 نصاب

### 2.3.1 لومړیتوب: د اړونده مضمونونو په زده‌کړه کې د سیمه‌ایزو عیني تجربو او موادو څخه د ګټې اخیستل ترویجول

**1.1 فعالیت: د لاربښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست د ساینس مرکزونو د علمي غړو لاربښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د ساینس مرکز ریاست له لوري د اړوندو مضمونونو د ښوونې لپاره د چاپېریالي عیني موادو او تجربو د استفادې دودولو لارښود د تطبیق لپاره د دې ولایت د پوهنې ریاست د ساینس مرکز علمي غړو ته لارښوونه تر سره شوې ده.

1.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې ریاست له لوري د مرکز او او ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د اړوندو مضمونونو د ښوونې لپاره د چاپېریالي عیني موادو او تجربو د استفادې دودولو لارښود د تطبیق په برخه کې لارښوونه ترسره شوې ده.

1.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ولسوالیو پوهنې آمریتونو له لوري د نوموړي لارښود د تطبیق په هکله ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه تر سره شوې ده چې۱۰۰ سلنه پرمختګ راښیي.

**2.3.2 لومړیتوب: د ښوونیز نصاب سره سم د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو بیا کتل او وېش یې**

2.1 فعالیت: د دارالعلومونو د مدرسینو او ښوونکو لپاره له ۴ تر ۱۲ټولګیو پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  نوموړي کتابونه د مرکز څخه دې ولایت ته نه دي راستول شوي.

**2.3.3 لومړیتوب: درسي مرستندویه موادو ( د ریاضي، بیولوژي کیټونو، ښوونیزو چارټونو او ویډیوګانو) ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو د لاسرسي زمینه برابرول**

3.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې له ریاستونو څخه د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې امریتونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږد
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د مرکز څخه دې ولایت پوهنې ریاست ته درسي مرستندویه  مواد نه دي راستول شوي.

3.2 فعالیت: د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې له آمریتونو څخه ښوونیزو مرکزونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږل
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د مرکز څخه دې ولایت پوهنې ریاست ته درسي مرستندویه  مواد نه دي راستول شوي.

3.3 فعالیت: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د درسي مرستندویه موادو وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د مرکز څخه دې ولایت پوهنې ریاست ته درسي مرستندویه  مواد نه دي راستول شوي.

**2.3.4 لومړیتوب:  د صنفي اصولو دورې لپاره د کمبود درسي کتابونو په ځانګړې توګه اساسي مضمونونو چاپ او د هغو متوازن وېش**

4.1 فعالیت: له ذیدخلو اړخونو او مرکزي او ولایتونو له ریاستونو سره د درسي کتابونو په کمښت کې همغږي او اړتیا سنجونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د مرکز څخه دې ولایت پوهنې ریاست ته د صنفي اصولو دورې درسي کتابونه نه دي راستول شوي.

**2.3.5 لومړیتوب:  په ښوونځیو کې د بدني روزنې د ودې او پراختیا په منظور د بدنې روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب وېشل**

5.1 فعالیت: د پوهنې د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه دې ولایت پوهنې ریاست ته د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود ۳۳۹ ټوکه کتابونه راستول شوي، چې د مرکز او ټولو ولسوالیو ښوونځیو ته ویشل شوي دي.

### 2.3.6 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونه

6.1 فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامې د ضرورت وړ کتابونو اړتیاسنجونه:
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د سواد زده کړې مدیریت له لوري د دې ولایت په مرکز او۱۲ولسوالیو کې د سواد زده کړې برنامې دضرورت وړ کتابونو اړتیا سنجونه تر سره شوې ده. چې د نوموړې اړتیا سنجونې له مخې د دې ولایت په کچه د سواد زده کړو ۹۱۹,۱ سیټه کتابونو ته اړتیا ده.

## 2.4 ښوونیزه ارزونه

د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان کې کوم فعالیت او یا هم اولویت په دې برخه کې شامل نه ده.

## 2.5 ښوونیز چاپیریال

### 2.5.1 لومړیتوب: په ښوونیزو کې د لابراتوارونو او کمپیټر لبونو جوړول او تجهیزول

1.1 فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په منظور د ښوونیزو مرکزونو اړتیا سنجونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې په دې ولایت کې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په منظور د ۱۰ بابه ښوونیزو مرکزونو څخه اړتیا سنجونه تر سره شوې ده.

1.2 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو لپاره د ساینس او ریاضیاتو لابراتوارونه رامنځته کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ساینس مرکز ریاست له لوري د دې ولایت په ښوونیزو مرکزونو کې د ساینس او ریاضیاتو لابراتوارونه نه دي رامنځته شوي.

1.3 فعالیت: په سامان آلاتو او لابراتواري موادو د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټرلبونو تجهیزول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ساینس مرکز ریاست له لوري په دې ولایت کې د ښوونیزو مرکزونو لابراتوارونه په لابراتواري موادو او سامان الاتو ندي تجهیز شوي، مگر د ۱ باب ښوونیز مرکز کمپیوټر لب تجهیز شوی دی.

### 2.5.2 لومړیتوب: د ادارو په دیپوگانو کې د گټې اخیستنې وړ منابعو ( درسي کتابونه، مېز او چوکۍ، توره تخته، مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه، فرش او خېمه، وسایط، وسایل، تجهیزات او لابراتواري موادو) پېژندل او د هغې متوازن وېش

2.1 فعالیت: په اړوندوگدامونو او اداروکې د وسایلو، تجهیزاتو او لابراتواري موادو پېژندنه او د استفادې لپاره په ښوونیزو مرکزونوکې د هغو متوازن وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ساینس مرکز مدیریت له لوري د دې ولایت په اړوندو گدامونو او ادارو کې وسایل، تجهیزات او لابراتواري مواد پیژندل شوي او د گټې اخیستنې لپاره ښوونیزو مرکزونو ته په متوازنه توگه ویشل شوي دي.

### 2.5.3 لومړیتوب: په کابل ښار او ولایتونوکې د نمونوي مرکزونو تشخیص او آزمایشي فعالول

3.1 فعالیت: نمونه ښوونځیو ته د ارتقا لپاره د عادي ښوونځیو د اړتیاوو تشخیصول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د اساسي او ثانوي زده کړو رياست له لوري په دې ولايت کې نمونه ښوونځيو ته د ارتقا لپاره د عادي ښوونځيو اړتياوې نه دي تشخيص شوي.

### 2.5.4 لومړيتوب: د ښې ښوونکو ټولګيو لپاره لازم تدبيرونه نيول

**4.1 فعاليت: د ښې ښوونکي درسي ټولګيو پېژندنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا ټيمونو له لوري د دې ولايت په مرکز او ۱۲ ولسواليو کې ۱۴۰ ښې ښوونکي ټولګي پيژندل شوي دي.

**1.2 فعاليت: د هغو ښوونيزو مرکزونو پېژندنه چې پر ښوونکي د زده کوونکي نسبت يې له ټاکل شوي نورم څخه ټيټ دی**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا ټيمونو له لوري د دې ولايت په مرکز او ۱۲ولسواليو کې ۳۰ بابه ښوونيز مرکزونه پيژندل شوي چې پر ښوونکو د زده کوونکو نسبت يې له ټاکل شوي نورم څخه ټيټ دی.

**4.3 فعاليت: د لارښود تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياست لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د مرکز څخه کوم ټيم د نوموړي فعاليت د تر سره کولو په موخه دې ولايت ته سفر نه دی تر سره کړی.

**4.4 فعاليت: د لارښود د تطبيق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمريتونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ولايت پوهنې رياست له لوري د ولسواليو د پوهنې آمريتونو ته د نوموړي لارښود د تطبيق لپاره لارښوونه تر سره شوې ده.

**4.5 فعاليت: د لاښود د تطبيق لپاره د ښوونيزو مرکزونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ولسواليو د پوهنې آمريتونو له لوري ښوونيزو مرکزونو ته د نوموړي لارښود د تطبيق په هکله لارښوونه ترسره شوې ده.

**4.6 فعاليت: په ښوونيزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په ښوونيزو مرکزونو کې نوموړی لارښود تطبيق شوی دی.

**4.7 فعاليت: د مسلکي پراختيا د غړو له راپور ورکولو وروسته د ښې ښوونکي ټولګيو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکي د چمتوکولو په موخه د کارکوونکو چارو له لوی رياست سره همغږي**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې په دې ولايت کې د ښې ښوونکو ټولګيو لپاره د ښوونکو د چمتو کولو په برخه کې د اړونده مرجع سره همغږي تر سره شوې ده.

### 2.5.5 لومړيتوب: د آزادې فضا ټولګيو لپاره د اړينو تدبيرونو نيول

**5.1 فعاليت: د هغو ښوونځيو چې په آزاده فضاکې د ټولګيو لرونکي دي او دهغو ټولګيو چې په آزاده فضاکې قرار لري پېژندنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا ټيمونو له لوري د دې ولايت په مرکز او ۱۲ولسواليو کې ۳۰ بابه ښوونځې چې په ازاده فضا کې د ټولګيو لرونکي دي او ۳۵۷ ټولګي چې په آزاده فضا کې قرار لري پيژندل شوي دي.

**5.2 فعاليت: د لارښود د تطبيق لپاره ولايتونو د پوهنې رياست لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مسلکي پراختیا غړیو له لوري د دې ولایت پوهنې ریاست ته د نوموړي لارښود د تطبیق لپاره لارښوونه تر سره شوې ده.

5.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مسلکي پراختیا غړیو له لوري د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د نوموړي لارښود د تطبیق لپاره لارښوونه تر سره شوې ده.

5.4 فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مسلکي پراختیا غړیو له لوري د مرکز او ټولو ولسوالیو ښوونیزو مرکزونو ته د نوموړي لارښود د تطبیق لپاره لارښوونه تر سره شوې ده.

5.6 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په ښوونیزو مرکزونو کې د مسلکي پراختیا غړیو له لوري د ازادې فضا ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نیولو لارښود تطبیق شوي دی.

5.7 فعالیت: د مسلکي پراختیا غړو د راپور له وړاندې کولو وروسته د بې ودانۍ ښوونځیو لپاره د ښوونیز چاپېریال لکه (د خېمې او کرایي ودانۍ) د پیداکولو او برابرولو په موخه له اړوندو ریاستونو سره همغږي
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مسلکي پراختیا غړو د راپور له وړاندې کولو وروسته د بې ودانۍ ښوونځیو لپاره د ښوونیز چاپېریال لکه (د خېمې او کرایي ودانۍ) د پیداکولو او برابرولو په موخه له اړوندو ریاستونو سره همغږي تر سره شوې ده.

### 2.5.6 لومړیتوب: د صنفي اصولو دورې په ځانګړې توګه لومړي ټولګي ته د بهترین ټولګي ځانګړي کولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

6.1 فعالیت: د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۲ولسوالیو کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري د صنفي اصولو په دوره کې دښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په منظور حمایوي څارنه تر سره شوې ده.

6.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت مسلکي پراختیا غړو له لوري د صنفي اصولو دوره کې د ښوونکو د توظیفولو لارښود د تطبیق په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

6.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت مسلکي پراختیا غړیو له لوري د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د نوموړي لارښود د تطبیق لپاره لارښوونه تر سره شوې ده.

6.4 فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مسلکي پراختیا غړیو له لوري د مرکز او ټولو ولسوالیو ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه تر سره شوې ده.

6.5 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د خوست ولایت د مسلکي پراختیا غړیو له لوري د صنفي اصولو دوره کې د ښوونکو د توظیفولو لارښود پلي شوی دی.

### 2.5.7 لومړیتوب:  د ښوونیز کال له پیل سره د ښوونیزو مرکزونو د ښوونیزو فعالیتونو ( بې له وقفې ) پیلولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

7.1 فعالیت: د ښوونیزکال په پیل کې په ښوونځیوکې د ښوونیزو فعالیتونو له شروع څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ۱۲ ولسوالیو په ښوونځیو کې د ښوونیزو فعالیتونو له پیل څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور حمایوي څارنه تر سره شوې ده.

7.2 فعالیت: د ښوونیزکال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د وېش له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې دښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري د دې ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د ښوونیز کال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د وېش له بهیر څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.

7.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې دې ولایت پوهنې ریاست ته د نومړي لارښود د پلي کولو  په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

7.4 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت دمسلکي پراختیا غړیو له لوري د مرکز او ټولو ولسوالیو پوهنې امریتونو ته د نومړي لارښود د پلي کولو په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

7.5 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لاښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت دمسلکي پراختیا غړیو له لوري د مرکز او ټولو ولسوالیو  ښوونیزو مرکزونو ته د نومړي لارښود د پلي کولو په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

7.6 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مسلکي پراختیا غړیو له لوري په ښوونیزو مرکزونو کې نومړی لارښود پلي شوی دی.

### 2.5.8 لومړیتوب:  حد اکثر په دوو ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم لپاره د لازمو تدبیرونو نیول

8.1 فعالیت: دهغو ښوونځیو پېژندنه چې له دوو څخه زیات درسي ټایمونه لري
په خوست ولایت کې داسې ښوونځي شتون نلري.

8.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مسلکي پراختیا غړیو له لوري حد اکثر دوه ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم د لارښود د تطبیق په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

8.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مسلکي پراختیا غړیو له لوري د مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د حد اکثر دوه ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم د لارښود د پلي کولو په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

**8.4 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مسلکي پراختیا غړیو له لوري د مرکز او ولسوالیو ښوونیزو مرکزونو ته د حد اکثر دوه ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم د لارښود د پلي کولو په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

**8.5 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په ښوونیزو مرکزونو کې د حد اکثر دوه ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم لارښود پلی شوی دی.

## 2.5.9 لومړیتوب: د هېواد په کچه د ښوونې او روزنې زمینه برابرول او ښوونځیو متوازن کول

**9.1 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونوکې د جدیدالتأسیس ښوونځیو رامنځته کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز له لوري په دې ولایت کې کوم نوی ښوونځی نه دی رامنځته شوې.

**9.2 فعالیت: د لومړنیو منځنیو او منځنیو لېسه ښوونځیو ته لوړول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په ۲ ولسوالیو کې ۲ بابه ښوونځي( په صبریو او یعقوبیو ولسوالۍ کې کرړو او موسی خیلو ولسوالۍ کې وایه) د لومړنۍ دورې څخه منځنۍ دورې ته لوړ شوي دي.

**9.3 فعالیت: د هغو کلیو او محلاتو تشخیصول چې ماشومان یې د واټن د ستونزې او نورو جغرافیایي ستونزو له امله له زده کړې بې برخې پاتې دي او د هغوی لپاره د بدیلو خدماتو برابرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د وایفا، ابرار، اداره او افغان پرمختیایي مؤسسو پرمټ هغه کلي او محلات تشخیص شوي چې ماشومان یې د واټن د ستونزې او نورو جغرافیایي ستونزو له امله له زده کړې بې برخې پاتې دي چې لست یې چمتو او د هغوی لپاره د بدیلو خدمتونو زمینه برابره شوې ده.

**9.4 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونوکې د دولتي او خصوصي ښوونځیو او کورسونو د نوم بدلون**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په نادرشاه کوټ ولسوالۍ کې د خرمښکۍ په نوم امارتي ښوونځی د مولوي حضرت گل نوم ته او په اسمعیل خیل او مندوزیو ولسوالۍ کې د محمد صدیق روهي ذکور او محمد صدیق روهي نسوان په نومونو امارتي ښوونځیو نومونه په ترتیب سره د حیدرخیلو ذکور او حیدرخیلو نسوان نومونو ته بدل شوي دي. همدارنگه د گربزو ولسوالۍ اړوند بختیار خصوصي ښوونځي نوم قوم تور ته بدل شوی دی.

**9.5 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونوکې د خصوصي ښوونیزو مرکزونو( ښوونځیو او کورسونو) د نوم تأییدول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز کې د ۴ بابه خصوصي ښوونځیو نومونه د سلطان العلوم، خوست رڼا، ځوان بدلون او کیهان افغان په نومونو او د ۲۸بابه خصوصي کورسونو نومونه تائید شوي دي.

**9.6 فعالیت: د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړو له راپور وروسته د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تأسیس کړنلارې او اساسي او ثانوي زده کړو د لایحې د شرایطو نه بشپړېدو په صورت کې د دولتي ښوونځیو د درسي شعبو مدغمول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په ښوونځیو کې درسي شعبې نه دي مدغم شوي.

**9.7 فعالیت: د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تأسیس او لوړاوي کړنلارې د شرایطو د نه بشپړېدو په صورت کې د دولتي ښوونځیو مدغمول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په اسمعيل خيلو او تڼيو ولسواليو کې ۲بابه امارتي ښوونځي مدغم شوي دي.

9.8 فعالیت: د یوې ولسوالی/ ښوونیزې حوزې په کچه د بست د اړتیا او کمښت په صورت کې له یوه ښوونځي څخه بل ښوونځي ته د اضافه زمره بستونو لیږدول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې په دې ولایت کې اضافه زمره بستونه نه دي پيژندل شوي.

### 2.5.10 لومړيتوب: د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو د د ښه‌والي او ودانۍ جوړلو په منظور د ستونزو پېژندل

10.1 فعالیت: د اړتیا او لزوم دید سره سم د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو تر شخړې لاندې پروژو د چارو بیالیدنه او همغږي

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د اړتیا او لزوم دید سره سم د عمومي زده کړو د ښوونځیو تر شخړې لاندې پروژو د چارو بیا لیدنه او همغږي نده ترسره شوې.

10.2 فعالیت: د پروژو د تطبیق په منظور د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو د ودانیزو پروژو د اړتیاوو راټولول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د پروژو د پلي کولو په منظور د عمومي زده کړو د ښوونځیو د ودانیزو پروژو اړتیاوې نه دي راټولې شوي.

10.3 فعالیت: له ښکېلو ادارو سره د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د هغه ودانیزو پروژو په اړه همغږي چې د سیمې د اوسېدونکو د غوښتنو له لارې دې اداري ته رارسېږي

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې له ښکېلو ادارو سره د عمومي زده کړو ښوونځیو د هغه ودانیزو پروژو په اړه همغږي نده تر سره شوې چې د سیمې د اوسېدونکو د غوښتنو له لارې دې اداري ته رارسېږي.

10.4 فعالیت: د مرکزي او ولایتونو د ریاستونو له ښکېلو اړخونو سره د عمومي زده‌کړو د جدیدالتأسیس، ارتقایي او نورو هغه ښوونځیو د ودانیزو پروژو د ستونزو همغږي چې ( د احاطې دیوال، تشنابونو او د روغتیایي اوبو د څاه) جوړولو ته اړتیا لري:

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د مرکزي او ولایتي ریاستونو له ښکېلو اړخونو سره د عمومي زده کړو د نویو تاسیس شویو، ارتقایي او نورو هغه ښوونځیو د ودانیزو پروژو د ستونزو همغږي ترسره شوې چې ( د احاطې دیوالونو، تشنابونو او د روغتیایي اوبو څاه) جوړولو ته اړتیا لري.

### 2.5.11 لومړيتوب: د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د ساحو زرغونول

11.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په ښوونځیوکې د شنو ساحو د رامنځته کولو لپاره د نهالونو او ګلانو کښېنول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولایت پوهنې ریاست د څارندوی مدیریت له لوري د مرکز او ګربزو ولسوالۍ اړوند ښوونځیو کې ۴۰۸ نیالګي کښېنول شوي دي چې د ښوونیزو مرکزونو ساحې ور سره شنې او ښایسته شوي دي.

### 2.5.12 لومړيتوب: د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د ساحو نظافت او پاکول

12.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د پاکوالي لپاره د حشرکارونو په لاره اچول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولایت پوهنې ریاست د څارندوی مدیریت له لوري د مرکز او ۱۲ ولسوالیو په ښوونځیو کې د پاکوالي لپاره د حشر کارونه په لاره اچول شوي دي، چې په پایله کې د ښوونځیو چاپیریال پاک شوی دی.

### 2.5.13 لومړيتوب: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو د میدانونو او لوبغاړو احصائیه ترتیبول

13.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د ورزشي ډګرونو او بېلابېلو رشتو د ورزشکارانو د احصائیې راټولول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې دبدني روزنې مدیریت له لوري د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د ورزشي ډګرونو او ورزشکارانو احصائیه راټوله شوې ده.

### 2.5.14 لومړیتوب: د سواد زده کړي کورسونو جوړول

14.1 فعالیت: د رسمي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځته کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۲ولسوالیو کې د رسمي ښوونکو له لارې ۱۳۷ بابه سواد زده کړې کورسونه رامنځته شوي دي

14.2 فعالیت: د ملا امامانو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځه کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز کې ۲ بابه د سواد زده کړې کورسونه د ملا امامانو له لارې رامنځته شوي دي.

14.3 فعالیت: د راستنېدونکو او بې ځایه شوو لپاره د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځته کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د امکاناتو دنه شتون له کبله د راستنېدونکو او بې ځایه شوو لپاره د سواد زده کړې کورسونه نه دي رامنځته شوي.

14.4 فعالیت: د کوچیانو لپاره د قراردادي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو رامنځته کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز کې ۲ بابه سواد زده کړې کورسونه د قرار دادي ښوونکو له لارې د کوچیانو لپاره رامنځته شوي دي.

### 2.5.15 لومړیتوب: خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو ته جواز ورکول، اعتبار ورکول او پراختیا

15.1 فعالیت: په ټول هېوادکې د خصوصي ښوونځیو او خصوصي ښوونیزو مرکزونو تأسیسول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې ۴ بابه خصوصي ښوونځي د سلطان العلوم، خوست رڼا، ځوان بدلون او کیهان افغان په نومونو او ۲۸ بابه خصوصي کورسونه تاسیس شوي دي.

15.2 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او خصوصي تعلیمي مرکزونو د جوازونو نوي کول او اعتبار ورکول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د دې ولایت په کچه د۱۴ بابه خصوصي ښوونځیو جوازونه تمدید شوي دي.

15.3 فعالیت: له لومړنۍ څخه منځنۍ او له منځنۍ څخه لېسې ته د خصوصي ښوونځیو لوړول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې ۱ باب خصوصي ښوونځی په اسمعیل خیلو او مندوزیو ولسوالۍ کې د حمیدی۲نمبر په نوم له لومړنۍ دورې څخه منځنۍ دورې ته او ۴ بابه خصوصي ښوونځي د خلاصون، محمد صدیق روهی، نورالبصر۵ نمبر او اصلاح الناس له منځنۍ دورې څخه لېسې دورې ته لوړ شوي دي.

15.4 فعالیت: د ملکیت د لېږد او خصوصي ښوونځیو او خصوصي ښوونیزو مرکزونو د سپارلو د بهیر آسانه کول او ملاتړ
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه ۵۵ بابه خصوصي ښوونځیو او ۱ باب خصوصي کورس د ملکیت لیږد ترسره شوی دی.

## 2.6 د ټولنې ګډون

### 2.6.1 لومړیتوب: د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د ملي ورځو په مناسبت د ورزشي نمانځغونډو په لاره اچول

1.1 فعالیت: د ولایتونو د مرکز په کچه د ملي ورځو په مناسبت د ورزشي جشنوارو جوړول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې په دې ولايت کې د ملي ورځو په مناسبت ورزشي جشنوارې ندي جوړې شوي.

#### 2.6.2 لومړيتوب: د پوهنې نظام د سواد زده کړې برخې د پراختيا لپاره د ټولنې د ګډون جلبول

**2.1 فعاليت:** د مرکز، ولايتونو، ولسواليو او ښوونيزو مرکزونو په کچه د سواد زده‌کړې برنامې لپاره د سرچينو د بسيجولو لاربنود په هکله لاربښوونه او اجراآت

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د سواد زده کړې رياست له لوري خوست ولايت پوهنې رياست ته د سرچينو د بسيجولو لاربنود په هکله لاربښوونه نه ده تر سره شوې.

**2.2 فعاليت:** د لومړيتوبونو په رعايتولو سره د ښوونيزو مرکزونو د جوړولو، تجهيز او ساتنې پالنې لپاره د ځايي خلکو مادي او معنوي ګډون

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې  په دې ولايت کې دځايي خلکو له لوري د ښوونيزو مرکزونو د جوړولو او تجهيز په برخه کې همکاري تر سره شوې ده.

**2.3 فعاليت:** د سواد زده کړې برنامو د ښه تطبيق لپاره د ملي او محلي سرچينو پېژندنه، جلب، جذب او ملاتړ

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په مرکز او ۱۲ ولسواليو کې د کليو په کچه د سواد زده کړې ۹۵ کمېټې رامنځته شوي دي؛ همدارنګه د ولايت په کچه د سواد زده کړې کمېټو ۱غونډه، په ۱۲ ولسواليو کې د ولسواليو په کچه د سواد زده کړې کمېټو۱۲غونډې او په مرکز او۱۲ولسواليو کې دکليو په کچه دسواد زده کړې کميټو ۳۰۵ غونډې جوړې شوي دي.

**2.4 فعاليت:** د ځايي خلکو له لوري د نمونه سواد زده‌کوونکو، ښوونکو او کارکوونکو مادي او معنوي هڅول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ځايي خلکو له لوري د نمونه سواد زده کوونکو، ښوونکو او کارکوونکو مادي او معنوي هڅونه نه ده ترسره شوې.

### 2.7 مديريت

#### 2.7.1 لومړيتوب: د هغه زده کوونکو لپاره چې د هېواد څخه بهر ښوونځيو کې د زده‌کړو د دوام غوښتونکي دي د ښوونې او روزنې د زمينې برابرول

**1.1 فعاليت:** د زده کوونکو د ترانسکرپټ ترتيبول او ښوونيزو سوابقو پړاوونو تېرول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت څخه ۴۵د تنه زده کوونکو ترانسکرپټونه او ۴۵ تنو زده کوونکو ښوونيز سوابق ترتيب شوي دي.

#### 2.7.2 لومړيتوب: په ښوونځيو کې د ځارندوی او ځارنجونو د ټيمونو د نظم او دسپلين څخه ځارنه او ليدنه

**2.1 فعاليت:** د ښوونځيو د دسپلين له نظم څخه ځارنه او د مرکز او ولايتونو د ځارندوی او ځارنجونو د ټيمونو د فعاليت څېړنه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ځارندوی مديريت له لوري د دې ولايت د مرکز او ۱۲ولسواليو د ۵۰ بابه ښوونځيو د نظم او دسپلين څخه ځارنه تر سره شوې ده.

#### 2.7.3 لومړيتوب: په ښوونځيوکې د ورزشي امکاناتو برابرول

**3.1 فعاليت:** د مرکز او ولايتونو د پوهنې د ښوونځيو د اړتيا وړ ورزشي لوازمو چمتوکول او وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د مرکز څخه دې ولايت پوهنې رياست ته د اړتيا وړ ورزشي لوازم راستول شوي دي. چې د مرکز او ۱۲ ولسواليو اړوند د عمومي زده کړو ښوونځيو ته ويشل شوي دي.

2.7.4 لومړیتوب: د بدني روزنې مضمون د درسي مفرداتو له تطبیق څخه ډاډ ترلاسه کول

4.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د پوهنې د بدني روزنې مضمون د درسي مفرداتو او مدیریتونو بیاکتنه او څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د بدني روزنې مضمون د درسي مفرداتو د پلي کیدلو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه د ۱۰بابه ښوونځیو څخه څارنه تر سره شوې ده.

2.7.5 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په کچه د څارندوی او څارنجونو د ګروپونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

5.1 فعالیت: د څارندوی لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د څارندوی د لارښود د پلي کیدلو په برخه کې د دې ولایت پوهنې ریاست ته لارښوونه تر سره شوې ده.

2.7.6 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د څارندوی د ترافیکو د ټیمونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

6.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په ښوونځیو کې د څارندوی د ترافیکو ټیمونو د جوړولو لارښود د پلي کیدلو په هکله  پوهنې ریاست ته لارښوونه تر سره شوې ده.

2.7.7 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د څارندوی د اطفائي ټیمونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود ترتیبول

7.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په ښوونځیو کې د څارندوی داطفائي ټیمونو د جوړولو لارښود د پلي کیدلو په هکله پوهنې ریاست ته لارښوونه تر سره شوې ده.

2.7.8 لومړیتوب: د راپورونو تحلیل او توحید او له اړوندو مراجعو سره یې شریکول

8.1 فعالیت: د ولایتي ترسره شوو راپورونو ترلاسه کول، توحید، شننه او وړاندې کول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت څخه ۹ علمي راپورونه چمتو او مرکز ته استول شوي دي.

2.7.9 لومړیتوب: د ښوونځي په کچه د مخدره موادو د ضررونو په اړه پوهاوی ورکول

9.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو په کچه د مخدره توکو د زیانونو او استفادې پر ضد د پوهاوي ورکولو د پیغامونو ترتیب او چمتوکول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ۱۲ ولسوالیو د ښوونځیو په کچه د مخدره موادو د زیانونو په هکله د عامه پوهاي پیغامونه ترتیب او خپاره شوي دي.

2.7.10 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې د پایلې ورکوونکو خدمتونو د برابرولو په منظور د سواد زده کړې برنامې د سیمه‌ایزه کارکوونکو د وړتیا لوړولو ورکشاپ دایرول

10.1 فعالیت: د سواد زده‌کړې د کره راپورونو وړاندې کولو او د دې ریاست په ډېټابس کې د سواد زده‌کړې برنامې د ارقامو او احصائیې د درجولو په موخه د راپور ورکولو او ډېټابس د ورکشاپ جوړول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په ډېټابس کې د سواد زده کړې برنامې د ارقامو د درجولو په موخه ۱ ورکشاپ په انلاین بڼه دایر شوی دی.

2.7.11 لومړیتوب: د ریاستونو تر چتر لاندې پلانونو له تطبیق څخه څارنه، ملاتړ او ډاډ ترلاسه کول

**11.1 فعالیت: تر چتر لاندې ریاستونو د پلاني برنامو له تطبیق څخه څارنه او ډاډ ترلاسه کول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه د مرکز څخه دې ولایت ته کوم ټیم سفر نه دی تر سره کړی.

### 2.7.12 لومړیتوب: په مرکز او ولایتونو کې د ساینس مرکزونو په تشو بستونو کې د علمي غړو ګمارنه

**12.1 فعالیت: د علمي کادر د منظورې شوې مقررې سره سم د علمي غړو ګمارل**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ساینس مرکز په تشو بستونو کې ۴ تنه علمي غړي ګمارل شوي دي، چې ورسره د ساینس مرکز مدیریت فعالیتونو چټکتیا او پراختیا موندلې ده.

### 2.7.13 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټر لبونو له چارو حمایوي څارنه

**13.1 فعالیت: د امارتي او خصوصي ښوونیزو مرکزونو د لابراتوار او کمپیوټرونو له چارو څخه څارنه او ملاتړ**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د ۲ بابه اسلامي زده کړو او ۱۴۱ بابه عمومي زده کړو دښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوتر لبونو څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.

### 2.7.14 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د ښوونکو او سرښوونکو د تدریس له بهیر څخه لیدنه او حمایوي څارنه او د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا ټیمونو د کړنو له ترسره کولو څخه د ډاډ ترلاسه کول

**14.1 فعالیت: د ولایتونو د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا له مرکزي هستې څخه ملاتړیزه څارنه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز له لوري د دې ولایت دښوونکو د روزنې او مسلکی پراختیا ټیم څارنه نه ده تر سره شوې. مګر د ولایت د مرکزي هستې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیم له لوري د دمرکز او ولسوالیو دښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا له ۱۲ ټیمونو څخه څارنه تر سره شوې ده.

**14.2 فعالیت: د عمومي زده‌کړو، حیاتي سواد له ښوونځیو او د سواد زده‌کړې له کورسونو څخه ملاتړیزه څارنه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې دښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري د دې ولایت د مرکز او ۱۲ولسوالیو د عمومي زده کړو د۳۷۰ بابه ښوونځیو او سواد زده کړې د ۳۰۵ بابه کورسونو څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده. چې د نوموړې څارنې په پایله کې دیادو ښوونیزو مرکزونو نیمګړتیاوې په ګوته او د حل لپاره یې اړینې سپارښتنې ورته شوي دي.

**14.3 فعالیت: د ښوونیزکال په بهیرکې لږترلږه څلور ځلې د رشتې مطابق د ښوونکو د تدریس د جریان لیدنه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري د دې ولایت د مرکز او ۱۲ولسوالیو د۴۷۸,۷۵ تنه ښوونکو د درسونو څخه لیدنې تر سره شوي دي، چې په دې سره د ښوونکو د تدریس په چارو کې لا ښه والی را منځته شوی دی.

**14.4 فعالیت: په ښوونیزکال کې لږترلږه څلور ځلې د سرښوونکو او مدیرانو د مسلکي کارکړنو د بهیر لیدنه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري د دې ولایت د مرکز او ۱۲ولسوالیو د ۳۷۰ تنه سر ښوونکو د کاري چارو څخه او د ۳۷۰ تنه آمرینو/مدیرانو مسلکي کار کړنو څخه لیدنې ترسره شوي دي، چې ورسره یې په کارونو کې ښه والی راغلی دی.

**14.5 فعالیت: په ولایتي کچه د ترسره شوو څارنو او لیدنو د علمي راپورونو شننه، توحید او وړاندې کول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ولایت د مرکزي هستې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیم له لوري په ولایتي کچه د ترسره شوو څارنو او لیدنو څخه ۱۰ علمي راپورونه ترتیب او د وزارت مقام ته استول شوي دي.

**2.7.15 لومړیتوب: د په شرایطو برابرو ماشومانو د شمولیت له جریان څخه حمایوي څارنه**

**15.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې په شرایطو برابرو ماشومانو د شمولیت له بهیر څخه ملاترېزه څارنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونو له لوري د دې ولایت د مرکز او ۱۲ولسوالیو په ۳۷۰ بابه ښوونیزو مرکزونو کې په شرایطو برابرو ماشومانو د شمولیت له بهیر څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.**

**2.7.16 لومړیتوب: د خصوصي ښوونځیو د قانوني او باکیفیته فعالیت لپاره د زمینې برابرول**

**16.1 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د ستونزو او شخړو څېړنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې دخصوصي ښوونځیو دستونزو او شخړو د څېړنې په موخه څېړنیز ټیم دې ولایت ته سفر تر سره کړی دی.**

**2.7.17 لومړیتوب: ستونزو ته رسېدنه، تصدیق‌لیکونو ته اعتبار ورکول او د ځانګړو معلوماتو راټولول**

**17.1 فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او ښوونیزوکورسونوکې د زده کوونکو چارو ستونزو ته رسېدنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه د وزارت څخه د څېړنې ټیم دې ولایت ته سفر ترسره کړې خو تر اوسه پورې یې معلومات نه دي شریک کړي.**

**17.2 فعالیت: په ډېټابس کې د خصوصي کورسونو د زده‌کوونکو د تصدیق‌لیکونو ثبتول او اعتبار ورکول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه د وزارت څخه د څېړنې ټیم دې ولایت ته سفر ترسره کړې خو تر اوسه پورې یې معلومات نه دي شریک کړي.**

**2.7.18 لومړیتوب: په خصوصي ښوونځیو کې د تدریس د کیفیت لوړولو ته زمینه برابرول**

**18.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونوکې د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو بېلګه‌ایز کنټرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه د وزارت څخه  د څېړنې ټیم دې ولایت ته سفر ترسره کړې خو تر اوسه پورې یې معلومات نه دي شریک کړي.**

**2.7.19 لومړیتوب: د ښوونکې د روزنې او مسلکي پراختیا برنامو، د سواد زده کړې طرحې او له مرستندویه مؤسسو سره د تفاهم لیکونو د تطبیق څخه څارنه او لیدنه**

**19.1 فعالیت: د سواد زده کړې برنامو د موثریت او پراختیا د طرحې له تطبیق څخه څارنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه د وزارت څخه دې ولایت پوهنې ریاست ته کوم ټیم سفر نه دی تر سره کړی.**

**19.2 فعالیت: د ٤٦ ګڼه کړنلارې سره سم له غیر دولتي مؤسسو سره د تفاهم لیکونو د تطبیق او اغېزمنتوب له څرنګوالي څخه څارنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه د وزارت څخه دې ولایت پوهنې ریاست ته کوم ټیم سفر نه دی تر سره کړی.**

## برنامه 3: د کیفیت تضمین

### 3.7 مدیریت

**3.7.1 لومړیتوب: د احصائیې دقیقه راټولونه، جوړونه او شریکونه او احصائیوي ارقامو ته د ادارو آسانه لاسرسی**

**1.1 فعالیت: د احصائیې او معلوماتو د راټولولو وروستي کول، د ۱۴۰۴ کال د احصائیې او معلوماتو راټولول، د احصائیوي فورمونو ډک کول د معلوماتو د مدیریت په سیستم کې د معلوماتو ثبتول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د احصائې مدیریت له لوري د دې ولایت ۹٦۴ بابه د عمومي زده کړو امارتي او خصوصي مرکزونو او دیني زده کړو ښوونیزو مرکزونو ته د ایمیس ۱۲ ورقیزې احصائیوي فورمې چاپ او ېشل شوي دي؛۹٦۴ فورمې د ښوونیزو مرکزونو د مسؤلینو له خوا ډکې شوي ،۹٦۴ فورمې د ولسوالیو پوهنې آمریتونو څخه راټولې شوي او ۹٦۴ فورمې په سیستم کې ثبت شوي دي.

**1.2 فعالیت: د ۱۴۰۵کال د احصائیوي ارقامو پاک کول یا Data cleaning**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د احصائې مدیریت له لوري د دې ولایت د ۱۴۰۴ کال د احصائیوي ارقامو پاک سازي ترسره شوې ده چې۱۰۰ سلنه پرمختګ راښیي.

**1.3 فعالیت: د۱۴۰۴کال د هېواد د ښوونیزو بنسټونو د ارقامو تأیید او تصدیق**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د احصائې لوی مدیریت له لوري د ۱۴۰۴ کال د۴۷ بابه ښوونیزو بنسټونو د ارقامو تائید او تصدیق تر سره شوی دی.

**1.4 فعالیت: د احصائیې په برخه کې د اسلامي زده‌کړو د بنسټونو د مسؤلینو ظرفیت لوړول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د دې فعالیت د ترسره کولو په موخه د وزارت مقام څخه روزنیز ټیم دې ولایت ته سفر نه دی تر سره کړی.

**1.5 فعالیت: د پروفایل، تحلیلي کتاب او اطلس په بڼه د۱۴۰۴کال د ښوونیزو بنسټونو د احصائیې او معلوماتو شننه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې نوموړی فعالیت د مرکز له لوري نه دی تر سره شوی.

**1.6 فعالیت: د پوهنې د معلوماتو د مدیریت د نوي سیستم پلي کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې نوموړی سیستم د وزارت له لوري په دې ولایت کې نه دی پلي شوی.

**1.7 فعالیت: د جدیدالتأسیسو، مدغم شوو او د ځای بدلون موندلو ښوونیزو بنسټونو د مختصاتو راټولول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د احصائې مدیریت له لوري د نویو تاسیس شویو، مدغم شوو او د ځاي بدلون موندلو ښوونیزو بنسټونو مختصات راټول شوي دي، چې۴۱ فورمې  ډکې شوي او په جې.ای.ایس سیستم کې ثبت شوي دي.

### 3.7.2 لومړیتوب: د ۱۴۰۴ هـ ل کال د لومړیتوبونو او عملیاتي پلان له تطبیق څخه څارنه او ډاډ ترلاسه کول

**2.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې د ۳۵ ریاستونو او همکارو مؤسسو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه او د سپارښتنو تعقیبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې وزارت د څارنې او ارزونې ریاست د څارنې ټیم له لوري د پوهنې ریاست د مرکزي هستې مدیریتونو او د همکارو مؤسسو د پروژې څخه ۱  ځلڅارنه تر سره شوې ده. همدا شان د پوهنې ریاست دڅارنې او ارزونې مدیریت د څارنیز ټیم له لوري د پوهنې ریاست د مرکزي هستې مدیریتونو او د همکارو مؤسسو د پروژې څخه ۱ ځل څارنه تر سره او راپورونه یې چمتو او لیږل شوي دي.

**2.2 فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې د آمریتونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې وزارت د څارنې او ارزونې ریاست د څارنیز ټیم له لوري د دې ولایت د ۴ پوهنې امریتونو څخه څارنه تر سره شوې ده. همدارنګه د پوهنې ریاست د څارنې او ارزونې مدیریت د څارنې ټیم له لوري د۱۳ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو څخه څارنه ترسره شوې ده چې راپورونه یې چمتو  او لیږل شوي دي.

2.3 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه
